سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۸/۲۹

# په حساب بی باوره!

جوړه وه یی ته په بل چا، زه یی خپله جـوړومه
ته یی گــوره جنـتو کی، زه یی دلتـــه لـټــومه

شنو درو، خړو باندو کی، حوري نه دی کمی شوې
ته ورځـه پسی محشر ته، زه یی غرو کی لمسومه

ما لیدلی لار د ستورو، ستا تعویذ می په کار نه دی
سـاده ګانو ته لار ښـایه، زه په خپـله لار ورځـمــه

ستا دوزخ له اوره ډک دی، زما زړه کی دي ګلونه
خوروه دی خپل اورونه، زه ګـلـونه غـوړومــه

ما لیدی چی را روان وی، سرو لمبو سره شنه باغ ته
زه د غره له هسکي څوکي، لکه کنده رغړید مـه

تا غوښتل چی رانژدی شی، له ما هم جوړه سپرغی کړی
خو زه هیـلــه د ښـکلا وم، لکه اور نه جوړیـدمــه

بی بـاور په حســاب تـه یــی، داروی مـا لـه حســابـه!
زه مـی رب ج او کلـیـوال تـه، د حســاب د پاره ځـمـه

نو راځـه که نه ویرېږی، د حساب کتـاب میـدان ته
پښـیـمان نشـــی رهـبـره، انـتـظـار درتـه کـومه

اګست/۲۰۱۹/۲۶
ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ